د عامه اړیکو څانګه
د سره صلیب نړیواله کمیټه
۱۹ سړک، ډیلا پکس
۱۲۰۲ ژنیو
سویس
اړیکشمیره: ۰۰۴۱۲۲۷۳۰۳۴۴۳
press@icrc.org
www.icrc.org

# د آی سي آر سي خبرپاڼه

**د نوامبر ۲۴مه ۲۰۲۲**

## افغانستان: د ماشومانو سینه بغل او د خوارځواکي په داسې حال کې زیات شوی، چې کورنۍ له ناممکن انتخاب سره مخ دي: خواړه یا د کور تودوخه؟

**کابل (آی سي آر سي)** – په داسې حال کې چې ژمی راروان دی او په افغانستان کې اقتصادي بحران مخ په زیاتیدو دی، د سره صلیب نړیواله کمیټه (آی سي آر سي) وایي چې په ماشومانو کې د سینه بغل او خوار ځواکۍ پیښې ډیرې شویدي.

په ټول هیواد کې د آی سي آر سي تر ملاتړ لاندې ۳۳ روغتونونو کې، په ۲۰۲۲ کال کې د ماشومانو د خوار ځواکۍ پیښې د ۲۰۲۱ کال په پرتله ۹۰٪ لوړې شویدي، چې سږکال تر دې دمه له ۳۳۰۰۰ پیښو څخه ۶۳۰۰۰ پیښو ته لوړې شوي. په عین حال کې، د آی سي آر سي تر ملاتړ لاندې د ماشومانو په یوه روغتون کې، په ۲۰۲۲ کال کې له ۵ کلونو د کم عمره ماشومانو شمیر چې د سینه بغل درملنې لپاره راوړل شوي د تیر کال د ورته مودې په پرتله ۵۵ سلنه زیات شویدی.

عبدالقیوم عظیمي، د کابل په اندیرا ګاندي روغتون کې د آی سي آر سي د پروګرام همغږي کوونکي ډاکټر وویل،"په افغانستان کې د فقر کچه د تیرو کلونو په پرتله لوړه شوې ده. ډیرې خلک نشي کولای د تودوخي توکي واخلي او خپل کورونه او ماشومان ګرم وساتي. دوی همدارنګه نشي کولای خپلو ماشومانو ته په سمه توګه خواړه برابر کړي، نو د سینه بغل پیښې مخ په ډیریدو دي او د سینه بغل اړوند د خوار ځواکۍ پیښې به هم مخ په زیاتیدو شي."

سره لدې چې د جګړې په شدت کې د پام وړ کموالی راغلی، په افغانستان کې بشري وضعیت د اندیښنې وړ دی. له نیمايي څخه ډیر وګړي (۲۴ میلیونه خلک) بشري مرستو ته اړتیا لري او نیمايي (۲۰ میلیونه خلک) په جدي توګه د خوړو خوندیتوب نلري. نړیوالو بندیزونو او د روسیې او اوکراین ترمنځ شخړې اقتصادي کړکیچ لا سخت کړی، چې په پایله کې یې میلیونونه افغانان نشي کولای د ژوندانه اړتیاوې برابرې کړي. د غنمو، غوړیو او سرې بیې لوړې شویدي. خلکو عایداتي سرچینې له لاسه ورکړي او خپلې زیرمې یې کارولي دي. د کرنې سکټور د نامناسبو اقلیمي لاملونو لکه زلزلې، وچکالی او سیلابونو له امله هم اغیزمن شویدی.

مارتین شویپ، د آی سي آر سي د عملیاتو مشر، پدې اوونۍ کې افغانستان ته د خپل سفر په ترڅ کې وویل، "افغاني کورنۍ له یوه ناممکن انتخاب سره مخ دي: خواړه یا هم د تودوخي توکي برابر کړي. او په حقیقت کې هغوی هیڅ یو نشي اخیستلای، چې په پایله کې به د خوار ځواکۍ او سینه بغل پیښې په ډاروونکې توګه زیاتې شي. مرستندویه سازمانونه نشي کولای د مرستې لپاره ټولو غوښتنو ته ځواب ووایي. له همدې امله موږ له دولتونو او پرمختیایي سازمانونو څخه غواړو چې افغانستان ته بیرته راستانه شي او دلته له میلیونونو اړو خلکو سره مرستې ته دوام ورکړي.

آی سي آر سي پدې وروستیو کې له ځینو افغانانو سره غږیدلې او هغوی خپلې ستونزې داسې شریکې کړیدي:

- **حاجي ولي، روزمزد کارګر او د اته میاشتني سینه بغل ماشوم پلار** : "که چیرې د ماشوم درملنه هم وشي او موږ هغه کور ته یوسو، هغه به بیا ناروغ شي ځکه چې موږ خپل کور نشو ګرمولای او هغه او نورو ماشومانو ته

مناسب خواړه نشو چمتو کولای. ما خپل یو ماشوم د سینه بغل له امله له لاسه ورکړیدی. خو له چا مرسته وغواړم؟ "

- **ماه جبین د پنځه ماشومانو مور**: "زموږ د ژوندانه وضعیت خراب شویدی. موږ عایداتي سرچینه او پیسې نلرو چې ماشومان موکلینیک ته د درملنې لپاره یوسو. ژمی راورسیده او موږ هیڅ شی نلرو چې خپل ماشومان پرې ګرم وساتو. کله چې هغوی پدې وضعیت کې وینم چې ان جامې نلري، ډیره خواشینې کیږم."
- **عباس، چې له ۱۰ کلونو راهیسې لرګي پلوري**: "هیڅ پیرودونکې نشته. خلک پیسې نلري. هغوی ان یوه دنده نشي موندلای ترڅو خپلو کورنیو ته خواړه چمتو کړي. خلک هیڅ بل انتخاب نلري؛ یا پې باید ماشومان په سړه هوا کې واوسیږي یا هر هغه څه چې مومي وېې سوځوي چې ژوندي پاتې شي."

د دې لپاره چې افغانانو ته ژوند ژغورونکې مرستې چمتو کړي، آی سي آر سي له ۳۳ روغتونونو سره مرسته کوي چې ۷۰۵۷ بستره لري او ۲۶ میلیونو خلکو ته روغتیایي مرستې چمتو کوي. د دغو مرستو له لارې طبي وسایل چمتو کیږي او ورځنې لګښتونه برابریږي او همداراز د نږدې ۱۰۵۰۰ تنو روغتیایي کارکوونکو معاشونه، چې له دریو برخو یوه برخه یې ښځې دي ورکول کیږي. دغه روغتونونه ۲۶ میلیونه تنو ته روغتیایي خدمتونه سرته رسوي. آی سي آر سي همدارنګه د افغاني سرې میاشتې ټولنې له ۴۶ روغتیایي کلینکونو او یو روغتون سره مرسته کوي. سږکال، آی سي آر سي له ۱۰۰۰۰ اغیزمنونکو کورنیو (۸۰۰۰۰ تنو) سره نغدی مرستې کړې؛ ترڅو هغوی وکولای شي خپلې اساسي اړتیاوې تامین کړي.

ښاغلي شویپ زیاته کړه، "ژمن او زړور ښځینه او نارینه روغتیایي کارکوونکي هره ورځ د خلکو ژوند ژغورلو لپاره ډیرې هڅې کوي، خو نړیواله ټولنه باید خپلې مرستې ډیرې کړي ځکه چې بشري سازمانونه نشي کولای په اغیزمنه توګه د اوږدې مودې لپاره د فعال عامه سکټور ځاناستی شي."

**د نورو معلوماتو لپاره:**


لوسین کریستېن، آی سي آر سي کابل، lchristen@icrc.org، ۰۰۹۳۷۲۹۱۴۰۵۵۱ (واتساپ، سګنال)

پرویز احمد فیضي، آی سي آر سي کابل، pfaizi@icrc.org، ۰۰۹۳۷۲۹۱۱۰۶۷۲ (واتساپ)

فاطمه ستار، آی سي آر سي ژنیو، fsator@icrc.org، ۰۰۴۱۷۹۸۴۸۴۹۰۸

جیسن سټرازیسو، آی سي آر سي ژنیو، jstraziuso@icrc.org، ۰۰۴۱۷۹۹۴۹۳۵۱۲


د آی سي آر سي د نویو ویډیوګانو د لیدو او ډونلوډولو لپاره:
www.icrcvideonewsroom.org

پر روغتیایي کارکوونکو او ناروغانو باندې د بریدونو د پای لپاره د آی سي آر سي د کړنو په هکله:
www.healthcareindanger.org

آی سي آر سي تعقیب کړئ:
twitter.com/icrc او Facebook.com/icrc